د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

گڼه: 454

( 6 - 12 لیندۍ 1403 هـ ش)

## د افغانستان د اسلامي امارت په اړه د ټرمپ په مشرۍ د امریکا د نوې ادارې د بهرني سیاست څېړنه



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- د افغانستان د اسلامي امارت په اړه د ټرمپ په مشرۍ د امریکا د نوې ادارې د بهرني سیاست څېړنه . 3
- هغه عوامل چې د امریکا په بهرنۍ پالیسۍ اغیزه کوي ........................................... 3
- په سیمه کې د امریکا ګټې او اهداف ........................................................ 5
- د افغانستان په اړه د ټرمپ ادارې ممکنه پالیسي........................................................ 5
- پایله ............................................................................................ 7
- وړاندیزونه ............................................................................................ 8
- سرچینې ............................................................................................ 9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د افغانستان د اسلامي امارت په اړه د ټرمپ په مشرۍ د امریکا د نوې ادارې د بهرني سیاست څېړنه

## سریزه

بې له شکه، د جمهوري غوښتونکو نوماند ډونالډ ټرمپ، د ډیموکراټ ګوند کاملا هریس په وړاندې د یوه اوږد ټاکنیز کمپاین په ترڅ کې، په داسې حال کې چې ځینې نظرپوښتنې لکه د CNN او PBS ټولپوښتنې د ټرمپ د ماتې او د هغه د ټاکنیز سیال کاملا هریس مخکښې خبرې کولې خو ټرمپ په خپل ټاکنیز کمپاین کې خپلو تګلارو او پلانونو ته دوام ورکړ تر څو د امریکا د ۲۰۲۴ کال ټاکنې د کاملا هریس د ۲۲٦ رایو په مقابل کې د ۳۱۲ رایو په ګټلو سره وګټي او ولسمشر وټاکل شی.[1] اوس چې ټرمپ له نن څخه دوه میاشتې وروسته د امریکا د ۴۷م ولسمشر په توګه په امریکا کې د واک څوکۍ ته ستنیږي، د اسلامي امارت مخالفینو هیله څرګنده کړې چې دی به د افغانستان په اړه د سیاستونو د سمون لامل شی. نو پوښتنه پیدا کیږي چې ټرمپ به د افغانستان له اسلامي امارت سره څه ډول اړیکي ولري؟ البته د دې پوښتنې ځواب تر یوه حده  څرګند دی، ځکه ټرمپ هغه څوک دی چې د ولسمشر په توګه یې د خپلې لومړۍ دورې پر مهال د امریکا او اسلامي امارت تر منځ لومړنۍ مستقیمې خبرې اترې او همدا راز د دوحې تړون هم د اسلامي امارت د استازو ترمنځ او امریکایي دیپلوماتانو د خپل صدارت په موده کې لاسلیک کړ.[2]

له دې وړاندوینې سره سره هغه څه چې ناڅرګندتیا رامنځ ته کوي د ټرمپ په کابینه کې د اسلامي امارت په وړاندې د بدبینه شخصیتونو شتون دی، لکه مایکل والټز چې د امریکا د استازو جرګې غړی و، د ملي امنیت د سلاکار په توګه، والټز د امریکا د ملي ګارد متقاعد افسر دی چې د اسلامي امارت پر ضد په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو په چوکاټ کې دنده ترسره کړې ده او له افغانستان څخه د وتلو په اړه د جوبایډن د حکومت له منتقدینو څخه و،[3] پیټ هیګسیت د دفاع وزیر چې په افغانستان کې یې د اسلامي امارت پر ضد جګړه کړې او له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو انتقاد هم کوي. همداشان د امریکا د مشرانو جرګې غړی مارکو روبیو چې د ډونالډ ټرمپ د ادارې د بهرنیو چارو د وزیر په توګه ټاکل شوی د اسلامي امارت سخت منتقد دی او غواړي چې د ترهګرو په لست کې یې شامل کړي او له اسلامي امارت څخه د بدلون تمه کول احمقانه بولي.[4] په هرصورت، دا لیدل کیدی شي چې ټرمپ د خپل امنیتي ټیم او بهرنیو وسایلو لپاره هغه خلک غوره کړي چې د اسلامي امارت په وړاندې بدبینه دي. نو بله پوښتنه دا ده چې د ټرمپ امنیتي ټیم تر کومه حده کولای شي چې د اسلامي امارت په اړه د ټرمپ پخوانی نظر نور هم بدبینه کړي او که دا کار وکړي نو د اسلامي امارت او د افغانستان په حالاتو به یې څه پایلې ولري؟

## هغه عوامل چې د امریکا په بهرنۍ پالیسۍ اغیزه کوي

باید یادونه وشي چې د امریکا بهرنۍ پالیسي یوازې د ولسمشر او د هغه د امنیتي ټیم او یا د هغه د بهرنیو چارو د وزیر له خوا نه جوړیږي، بلکې ډېر داسې وسایل او سیستمونه شته چې د بهرنۍ تګلارې په پرېکړو باندې اغېز لري، چې دلته یې یو څو ته اشاره کوو:

**۱- ولسمشر او د هغه ملګري:** ولسمشر کولای شي له خپل اجرایوي واک څخه په استفادې سره د امنیتي ټیم له خوا د ورکړل شویو معلوماتو او سیاسي لارښوونو په تړاکلو کې کار واخلي د هغه سلاکاران د بهرنیو سیاستونو په تړاکلو او د حکومت په مهمو پرېکړو کې اساسي رول لري.

**۲- د امریکا د متحده ایالاتو کانګرس:** د امریکا د متحده ایالاتو کانګریس، چې سنا او د استازو مجلس په کې شامل دي، د امریکا د اساسي قانون پر بنسټ، د بودیجې د قانون جوړونې سربېره بودیجه هم تصویب کوي. بهرني تړونونه، د نوماند وزیرانو تړاکل، او حتی د ویټو د ردولو او د ولسمشر د استیضاح حق هم لری. د ځینو دغو صلاحیتونو پر بنسټ، لکه د حکومت په کابینه کې شاملېدل، د بودیجې تصویب او همدارنګه د بهرنیو تړونونو تصویب، په داسې نظام کې د شخصي نقطه نظر پلي کول ستونزمن ښکاری. دا څو اړخیز سیستم او جوړښتي تنوع دا یقیني کوي چې تصویب شوي پالیسي یوازې د ځیرنې او ملي ګټو پر اساس تنظیم کیږي نه د انفرادي یا ګوندی چلند پر اساس.

**۳- سیاسي او امنیتي جوړښتونه:** بېلابېل بنسټونه لکه د بهرنیو چارو وزارت، دفاع وزارت او استخباراتي او معلوماتي ارګانونه لکه NSA او CIA هم د بهرنیو پالیسیو په جوړولو او تطبیق کې رول لري.

**۴- ملي ګټې:** د امریکا ملي ګټې چې په کې د امریکا ملي امنیت، اقتصادي ګټې او پر نړۍ د نفوذ ساتل د بهرنۍ تګلارې تر اغېز لاندې یو له مهمو عواملو څخه بلل کېږي، ځکه هره پرېکړه باید د دغو ګټو په ساتلو او ټینګولو کې وی.

په ټولیز ډول ویلای شو چې په امریکا او یا د نړۍ په نورو ډیموکراتیکو هیوادونو کې مهمې سیاسي پریکړې په داسې ډول نه عملي کیږي چې د مشرانو او هغو کسانو نظرونه وي چې د واک او یا د حکومت په لوړو څوکۍو وي ، هغه پریکړې او کړنې چې د یوې سیمې یا هیواد پورې اړه لري، په ډېری موارډو کې د ترسره شویو ځیړنو څخه اخیستل کیږي او د مختلفو څانګو څخه راټول شوي معلومات چې په دې اړه کار شوی، د پریکړو اصلي لار ده. د دې اصولو پر بنسټ، د هغه امنیتي مامور یا د بهرنیو چارو وزارت لپاره چې د متحده ایالاتو د ګټو لپاره په یو هیواد کې کار کوي، دا مهمه نده چې وزیر یا د هغه رییس څه فکر کوي، او هغه به خپل راپورونه د هغه د معلوماتو مطابق وړاندې کړي. په دې اساس د امریکا د بهرنۍ تګلارې جوړول د مختلفو او پیچلو عواملو مجموعه ده چې یوازې د ولسمشر او د هغه د امنیتي او دفاعي ټیم په پرېکړو پورې محدود نه دی. ډېري نور بنسټونه لکه ګنګری او مختلف سیاسي او امنیتي جوړښتونه د هیواد د بهرنۍ پالیسۍ په تړاکلو کې کلیدی رول لوبوي. د دغو ترکیبونو پر بنسټ د امریکا د ملي ګټو پر بنسټ د څو اړخیزه بهرنۍ

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

تګلارې جوړول دا په ډاګه کوي چې په دې هېواد کې په لویه کچه پرېکړې په ډېرو عواملو او بنسټونو پورې اړه لري.

## په سیمه کې د امریکا ګټې او اهداف

په سیمه او په ځانګړې توګه په افغانستان کې د امریکا یو مهم هدف د چین په شان د سیالانو د اقتصادي او سیاسي پرمختګ مخه نیول دي. امریکا ته د اقتصادي او سیاسي پرمختګ په برخه کې د چین د کنټرول لپاره پکار ده چې د سیمې په ستراتیژیکو نقطو کې ازاد لاس ولري او د خپلو هیلو سره سم پریکړې او سیاستونه وړاندې کړي. دغه راز د امریکایي چارواکو او دیپلوماتانو د څرګندونو له مخې، د امریکا یو له اصلي هدفونو څخه په افغانستان کې له امریکا سره د مخالفو ډلو نه شتون دی. تر دې مخکې په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ د ناټو حضور هم په دغه هېواد کې د امریکا پر ضد د ډلو د شنون په دلیل یاد شوی و. د امریکا ګټه په افغانستان کې د امریکا ضد نظام په نه جوړېدنه کې دی. دا چې د ټرمپ ادارې د خپلې ولسمشرۍ په لومړۍ دوره کې د امریکایی استازو او د اسلامي امارت د پلاوي ترمنځ د مستقیمو خبرو اترو زمینه برابره کړه. هغه غوښتل چې امریکا غواړي طالبان واک ته ورسوي، په دې شرط چې امریکا ته له افغانستان څخه کوم ګواښ نه وی. د اسلامي امارت چارواکو تل ویلي چې د افغانستان خاوره د هیڅ هیواد پر ضد نه کارول کیږی. د کابل له هوایي ډګر څخه د امریکایي پوځیانو وتل او د هوایي ډګر عمومي کنټرول او په ورته وخت کې د اسلامي امارت د ویاند ذبیح الله مجاهد له لوري د رسنیو په وړاندې په هوایي ډګر کې خپل دریځ څرګند کړ او ویې ویل: که څه هم امریکا په افغانستان کې له پوځي پلوه ماتې خوړلې، خو اسلامي امارت له امریکا او نړۍ سره ښې او ډیپلوماټیکې اړیکې غواړي نو له همدې امله داسې ښکاري چې امریکا له دې اړخه د افغانستان د روان وضعیت د ګډوډولو اړتیا نه لري.

نور اهداف لکه د مخدره توکو قاچاق، وسلې، ترهګري، بشري حقونه او نور هم په سیمه کې د امریکایانو لخوا پورته کیږي، مګر په حقیقت کې دا شیان به ډېر مهم نه وي.

## د افغانستان په اړه د ټرمپ ادارې ممکنه پالیسي

سمه ده چې زموږ په اند د اسلامي امارت پالیسي به د ټرمپ په لاس کې نه وي او یا د ټرمپ د ادارې پالیسي به اسلامي امارت دومره کمزوری نه کړي چې د افغانستان په اوسني وضعیت کې بدلون راولي، خو د امارت پر وړاندې به د ټرمپ پالیسي څنګه وي، چې د افغانستان په بېلابېلو سیاسي، امنیتي او اقتصادي اړخونو به اغېز ولري؟

**په سیاسي اړخ کې:** بې له شکه د افغانستان له اسلامي امارت څخه د امریکا غوښتنې دوه اساسي او فرعي برخې لري: لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، په سیاسي اړخ کې د امریکا لومړۍ غوښتنه د سیالانو لکه چین

او روسیې د سیاسي او اقتصادي نفوذ مخنیوی دی. په دې صورت کې به د افغانستان په اړه د امریکا بهرنۍ پالیسي بدله شي. په دې اساس د افغانستان اسلامي امارت ته لازمه ده، چې د پخوا په څېر متوازنه او اقتصادي پالیسي وساتي، څو افغانستان یو ځل بیا له امریکا سره د جګړې او سیمه ییز څواک د سیالۍ ډګر نه شي.

له افغانستان څخه د امریکا دویمه غوښتنه لکه څنګه چې وخت په وخت د امریکایي چارواکو له خوا راپورته شوې ده. په افغانستان کې د امریکا د مخالفو ډلو نشتوالی دی. بې له شکه دا غوښتنې به د امریکا لپاره مهمې وي او اسلامي امارت په وار وار ډاډ ورکړی چې له افغانستانه هیڅ ګواښ نشته. په بل پړاو کې له امریکا سره ځینې نورې غوښتنې هم شته او د اسلامي امارت مخالفین یې هم وخت په وخت ورته اشاره کوي چې پکې د یوه ټول شموله حکومت جوړول شامل دي ترڅو ټول افغانان د حکومت په آیینه کې ځان ووینې. د ښځو لپاره د زده کړې او کار حق او داسې نور د بشري حقونو مسلې؛ لکه څنګه چې په بهر کې د اسلامي امارت مخالفینو د «افغانستان د ژغورنې لپاره د ملي مقاومت عالي شورا» تر سرلیک لاندې د ټرمپ د بریا په غبرګون کې هیله څرګنده کړه چې د امریکا د نوې اداري پیل به د افغانستان په اړه د سیاستونو د اصلاح لامل شي. او د افغانانو غوښتنه دا ده چې د قانون د حاکمیت اړتیا ته پام وشي.[5] دغه راز یو شمېر لاریون کوونکو ښځو او د مدني ټولنې فعالانو د نومبر په ۲۳مه په یوه لیک کې د امریکا له منتخب ولسمشر څخه وغوښتل چې د امریکا او اسلامي امارت ترمنځ د دوحې تړون لغوه کړي. دوی باور لري چې دا تړون د افغانستان د خلکو لپاره ناوړه پایلې لرلې دي دوی هیله لري چې دا کار باید ټرمپ په لومړیو ورځو کې وکړي.[6]

که څه هم دا غوښتنې د اسلامي امارت له لوري څو ځله رد شوې دي، خو بیا هم که دا غوښتنې د اسلامي امارت د مخالفینو له لوري پورته شي، باور نه کېږي چې دا به کوم ګل اوبه کړي. خو که دا د امریکا لخوا وړاندیز شي نو کیدای شي د اسلامي امارت په وړاندې د فشار راوړلو او په اسلامي امارت کې د اندیښنو لامل شي. خو په حقیقت کې به دا غوښتنې د امریکا لپاره دومره مهمې نه وي چې د افغانستان اوسنی وضعیت ونګوي.

**د امنیت په برخه کې:** دا سمه ده چې د امریکا د ۲۰۲۴ کال په ټاکنو کې د ډونالډ ټرمپ بریا د اسلامي امارت د مخالفینو په منځ کې هیلې پیدا کړې دي. لکه څنګه چې جنرال سمیع سادات چې یو وخت د افغانستان د پخواني حکومت له عسکرو څخه وو او اوس ځان د اسلامي امارت پر ضد د متحدې جبهې بنسټګر ګڼي او د افغانستان د اسلامي امارت له مخالفینو څخه دی، په یوه مرکه کې ویلي: د افغانستان متحدې جبهې د ټرمپ له انتخاباتي ټیم څخه د مسلمانانو یو ائتلاف جوړ کړی او د ټرمپ د کمپاین له مدیر سره یې په کتنه کې د ټرمپ د بریا په صورت کې د اسلامي امارت په وړاندې د دغې جبهې د همکارۍ غوښتنه کړې ده.[7]

پورتني او د ټرمپ په دفاعي او امنيتي څانګو کې د اسلامي امارت د بدبينه شخصيتونو شتون ته په پام سره، دا له امکان څخه لرې نه ده چې امريکا به له خپلو مخالفينو څخه د فشار د يوې نقطې په توګه په اسلامي امارت د فشار راوړلو او د هغوی د غوښتنو د تحميلولو لپاره کار واخلي. خو ګومان نه کېږي چې امريکا دې د افغانستان په چارو کې د مستقيمې پوځي مداخلې لپاره کوم عذر يا لېوالتيا ولری. له بلې خوا که افغانستان د امريکا او د هغه د اقتصادي او وسلوي سيالانو لکه چين او روسيې ترمنځ د سيالۍ ډګر وګرځول شي، نو ناشونې نه ده چې د امريکا په ملاتړ به د اسلامي امارت مخالفين، به افغانستان ناامنه کړی. چې پدې صورت کې به د ډونالډ ټرمپ حکومت په افغانستان کې د ناامنۍ لامل شي.

**په اقتصادي اړخ کې:** بې له شکه د افغانستان په اړه د ټرمپ د اداري اقتصادي پاليسي هم د ده د نورو تګلارو په څېر به د هغه د ځانګړي نقطه نظر او ځانګړي تګلارو تر اغېز لاندې وي. ټرمپ تل په خپلو ويناوو کې ويلی چې امريکا بايد نورو هېوادونو ته نامحدوده مرستې ورنه کړي. هغه په دې باور دی چې بايد کورنيو مسايلو ته پام وکړي. له همدې امله ښايي د ټرمپ اداره له افغانستان سره د امريکا اقتصادي مرستې کمې کړي. لکه څنګه چې د افغانستان د بيارغونې لپاره د امريکا د ځانګړي مفتش دفتر راپور ورکړی چې واشنګټن په تېرو درېو کلونو کې اسلامي امارت ته شاوخوا ۲۱ ميليارده ډالر ورکړي دي.[8] په حقيقت کې هغه نسبي ثبات چې په افغانستان کې رامنځته شوی دی د افغانستان له اسلامي امارت سره د امريکا د متحده ايالاتو د مرستو پايله ده. له بلې خوا د امريکا لپاره د افغانستان د ځانګړي ستراتيژيک موقعيت تر څنګ نور اقتصادي مسايل هم شته چې په افغانستان کې د امريکا ډيپلوماتيک حضور هڅوي او له افغانستان سره د مرستو دوام ته تشويقوي. د بېلګې په توګه په افغانستان کې طبيعي زېرمې، افغانستان د مسو، ليتيم او نورو منرالونو په ګډون بډايه طبيعي زيرمې لري چې د دغه هېواد د عايداتو يوه مهمه سرچينه بلل کېدای شي. دا هم ممکنه ده چې د ټرمپ د ولسمشرۍ په دوهمه دوره کې په افغانستان کې خصوصي پانګونې ته پام وشي. په دې طرحه کې امريکايي شرکتونو ته د مالي هڅونې او اسانتياوو برابرول شامل دي چې په بېلابېلو اقتصادي برخو کې پانګونه وکړي، په ځانګړې توګه په افغانستان کې د طبيعي زيرمو او کانونو په برخه کې. په دې توګه به امريکا د افغانستان طبيعي زيرمې څخه ګټه واخلي او دا به د افغانستان لپاره د عايد سرچينه وي.

## پايله

راتلونکو دوو مياشتو کې واک ته د ډونالډ ټرمپ په راتګ او په امريکا کې د نوې ادارې په رامنځ ته کېدو سره به له اسلامي امارت سره د هغه تعامل او د افغانستان په اړه د هغه تګلارې په سياسي، امنيتي او اقتصادي برخو کې پراخې اغېزې لرلی شی.ځکه ټرمپ د خپلې ولسمشرۍ په لومړۍ دوره کې له اسلامي امارت سره لومړنۍ مستقيمې خبرې پيل کړې او د دوحې تړون د ده په وخت کې لاسليک شو. له بلې خوا د ټرمپ په کابينه کې د اسلامي امارت په اړه د بدبينه شخصيتونو شتون لکه مايکل والټز، پيټ هيګسيټ او

مارکو روبیو کولی شي د اسلامي امارت په اړه د ټرمپ نظر بدل کړي. دا بدلونونه ښايي پر اسلامي امارت د سیاسي فشار د زیاتوالي لامل شي، خو داسې نه ښکاري چې د افغانستان په اړه د امریکا په عمومي سیاستونو کې به انقلابي بدلونونه راشي.

د امنیت له پلوه د افغانستان په چارو کې د امریکا د مستقیمې پوځي مداخلې احتمال صفر ته نږدې شوی دی. خو د ټرمپ اداره ښايي د اسلامي امارت مخالفین د فشار د وسیلې په توګه وکاروي. همدارنګه که افغانستان د امریکا او د هغه د اقتصادي او وسلوي سیالانو تر منځ د سیالۍ ډګر شي، نو د دې امکان شته چې د اسلامي امارت مخالفین د امریکا د سیالانو له خوا حمایه شي، چې په افغانستان کې د ناامنۍ لامل شي، ځکه افغانستان له پخوا له دې لارې زیانمن شوی دی.

د افغانستان په اړه د ټرمپ په اقتصادي تګلاره کې به احتمالاً د مرستو کمول او پر خصوصي پانګونې تمرکز شامل وي. ټرمپ تل له نورو هېوادونو سره د مالي مرستو پر کمولو ټینګار کړی او ښايي له افغانستان سره د امریکا اقتصادي مرستې کمې شي. له بلې خوا د افغانستان طبیعي زېرمې د خصوصي پانګونې لپاره د پام وړ ځای کېدی شي. د ټرمپ اداره ښايي امریکايي شرکتونو ته د مالي هڅونې او اسانتیاوو په برابرولو سره د افغانستان په بېلابېلو اقتصادي برخو کې پانګونې ته وهڅوي. دا طریقه د امریکا لخوا د افغانستان د طبیعي زېرمو د استخراج او د اسلامي امارت لپاره د عایداتو د یوې سرچینې په توګه کارول کېدای شي.

په ټولیز ډول د افغانستان په اړه د ټرمپ د ولسمشرۍ په دوهمه دوره کې به د امریکا تګلاره د اقتصادي او امنیتي ګټو ترکیب وي. دغه تګلارې له یوې خوا له نړۍ سره د اسلامي امارت په اړیکو کې د بدلون لامل کېدای شي، له بلې خوا د خصوصي پانګونې له لارې د اقتصادي پرمختګ زمینه هم برابره شي. د هغو جوړښتونو په پام کې نیولو سره چې د امریکا په بهرنۍ پالیسۍ او سترو ګټو باندې اغېز لري، په افغانستان کې انقلابي بدلونونه ناشونی بریښي، خو د نوې ادارې د رامنځته کېدو او د امریکا د ګټو په پام کې نیولو سره کولای شي د اسلامي امارت پر وړاندې اندېښنې او فشارونه رامنځته کړي.

## وړاندیزونه

1. د امریکا متحده ایالات باید د افغانستان په اړه داسې پالیسي غوره کړي چې د افغانانو ګټو او حاکمیت ته درناوی ولري او د ټرمپ د ادارې تمرکز یوازې د امریکا په ګټو نه وي.

2. د اسلامي امارت لپاره لازمه ده چې د امریکايي پانګوالو په ګډون د بهرنیو پانګوالو د جذب لپاره مناسب شرایط رامنځته کړي، ترڅو د راتلونکو احتمالي ننګونو مخه ونیول شي.

3. د اسلامي امارت حکومت باید د ګاونډیو او سیمې په وړاندې د متوازنې پالیسۍ له مخې خپلې دیپلوماتیکې او فعالې اړیکې وساتي ترڅو افغانستان د امریکا او چین ترمنځ د جګړې او سیالۍ ډګر نه شي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## سرچینی

[1] . Aljazeera: US ELECTION 2024, link:
https://www.aljazeera.com/us-election-2024/results/

[2] .THE DIPLOMAT :Muhammad Murad, What Trump's Presidency Means for Afghanistan and the Taliban, Nov15,2024,link:

https://thediplomat.com/2024/11/what-trumps-presidency-means-for-afghanistan-and-the-taliban/

[3] . رادیو آزادی: حضور چهره‌های منتقد طالبان در کابینه دونالد ترامپ به چی معنی است؟ 25 عقرب 1403 ش، لینک:
https://da.azadiradio.com/a/33203804.html

[4] . خبرگزاری جمهور: معنی کابینه ترامپ برای طالبان و جبهه مقاومت چیست؟ 26 عقرب 1403 ش، لینک:
https://www.jomhornews.com/fa/article/177656/

[5] . شورای عالی مقاومت ملی برای نجات افغانستان: پیام شورای عالی مقاومت ملی برای نجات افغانستان به مناسبت برگزاری موفقانه انتخابات ریاست جمهوری ایالات متحده امریکا، 18 عقرب 1403 ش، لینک:
https://nrcafghanistan.org/messages/%D9%BE%DB%8C%D8%A7%D9%85%D8%B4%D9%88%D8%B1%D8%A7%DB%8C-%D8%B9%D8%A7%D9%84%DB%8C-%D9%85%D9%82%D8%A7%D9%88%D9%85%D8%AA-%D9%85%D9%84%DB%8C-%D8%A8%D8%B1%D8%A7%DB%8C-%D9%86%D8%AC%D8%A7%D8%AA-%D8%A7-13/

[6] . صدای امریکا: نامه زنان افغان و فعالان مدنی به ترمپ، 3 قوس 1403 ش، لینک:
https://www.darivoa.com/a/afghan-protested-women-and-civil-society-activists-in-a-letter-urged-president-

[7] . ویدئو: افشاگری جنرال سادات در باره آینده افغانستان، لینک:
https://www.youtube.com/watch?v=9ZIvrx_Tkea

[8] . شبکه اطلاع رسانی افغانستان: آمریکا 21 میلیارد دالر به طالبان کمک کرده است، 16 اسد 1403 ش، لینک:
https://www.afghanpaper.com/nbody.php?id=175821

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000 +93780618000